Senatsverwaltung für Bildung, Jugend und Familie BERLIN

# د زده کړې او ګډون د مالي کمک بسته
(Bildungs- und Teilhabepaket)

## د هغو ماشومانو د والدینو لپاره مالومات چې په ورځنۍ پاملرنې مرکزونو کې یا د ماشومانو د ساتونکو په وسیله یې پاملرنه کیږي

ګرانو والدینو، کله چې خبره د زده کړې او په ټولنه کې د ګډون په اړه وي، ټول ماشومان باید مساویانه فرصتونه ولري. دا باید د کورنۍ پر عاید پورې تړلی نه وي. له دې امله، د زده کړې او ګډون د بستې (BuT) له لورې ملاتړ وړاندې کیږي.

### د زده کړې او ګډون د بستې لپاره څوک د شرایطو وړ دي؟

ماشومان او ځوان اشخاص چې دوی پخپله یا والدین یې لاندې کمکونه ترلاسه کوي:

- د تبعه مرستې (Bürgergeld)
- ټولنیزې مرستې (Sozialhilfe)
- د ماشومانو معاش (Kinderzuschlag)
- د کور مرستې (Wohngeld)، یا
- د پناه غوښتونکو د قانون تر لاندې مرستې (Leistungen nach dem Asylbewerberleistungsgesetz).
- ان که تاسو هیڅ یوه پورتنۍ مرسته نه ترلاسه کوئ، ځکه چې د مصرف وړ عاید سطحه مو لږه اوچته ده، د زده کړې او ګډون مرستو ته بیا هم انفرادي غوښتنلیک وړاندې کېدای شي. په داسې حالت کې، د دندو مرکز مراجعه کولو لومړی سرچینه ده.

### د زده کړې او ګډون د مرستو کوم ډولونه موجود دي؟

- په وړکتون یا د ورځنۍ پاملرنې په مرکز کې د غرمې ډوډۍ لګښتونه (چې اوسمهال په میاشت کې 23 یورو کیږي).
- د وړکتون یا د ورځنۍ پاملرنې مرکز لخوا تنظیم شوي د ورځنۍ سفر د ګډون لګښتونه.
- په وړکتون یا د ورځنۍ پاملرنې مرکز کې د څو ورځو سفر لپاره د ګډون لګښتونه.
- د ټولنې ټولنیز او کلتوري ژوند کې د ګډون لګښتونه.

### زما ماشوم څه ډول کولی شي د غرمې وړیا ډوډۍ او د ورځنۍ پاملرنې او وړکتون سره په یو ورځني وړیا سفر کې ګډون وکړي؟

- که تاسو له ذکر شوو مرستو څخه یې یوه هم ترلاسه کوئ، تاسو د خپل ماشوم لپاره د زده کړو د بستې مرستې ترلاسه کولی شئ.
- د لیکل شوي غوښتنلیک د وړاندې کولو لپاره اړتیا نشته. بېل غوښتنلیک یواځې د کور د مرستو د دفتر لپاره کوم دفتر څخه چې تاسو د کور پیسې تر لاسه کوئ باید وړاندې کړ. (Wohngeldstelle)
- تاسې اړ یې یواځې اړین اسناد وړاندې کړئ (له ورځنۍ پاملرنې یا ماشوم ساتونکو سره تړون یا د ورځنۍ پاملرنې د ډوډۍ رسید).
- د دې لپاره د مرستو دفتر سره اړیکه ونیسئ، چېرې چې تاسو پخوا، د خپلو مرستو لپاره غوښتنلیک وړاندې کړی وو. دا دفتر د دندو مرکز (Jobcenter)، د ټولنیزې هوسایني دفتر (Sozialamt)، د کډوالو چارو ایالتي دفتر (Landesamt für Flüchtlingsangelegenheiten) او یا د کور د مرستو دفتر (Wohngeldstelle) کېدای شي (د کور د مرستو دفتر همدارز د ماشومانو د اړونده ډلې د نقدي مرستو مسؤلیت هم لري).
- تاسو به وروسته berlinpass-BuT ترلاسه کړئ.
- berlinpass-BuT باید په فوري توګه ستاسو د ماشوم ورځنۍ پاملرنې مرکز ته ورکړل شي، تاسو به وروسته له هغې مجبور نه یاست تر څو د نقدي مرستې د مشخصې مودې په ترڅ کې، په وړکتون کې د خپل ماشوم د غرمې ډوډۍ ته د میاشتې 23 یورو تادیه کړئ. ستاسو ماشوم به وروسته له هغې د ماسپښین وړیا ډوډۍ ترلاسه کړي. د دې مودې په ترڅ کې، ستاسو ماشوم همدارز کولی شي د ورځنۍ پاملرنې په یوه ورځنیو سفرونو کې په وړیا توګه ګډون وکړي.

- د ماشوم ساتونکو په صورت کې، berlinpass-BuT باید ستاسو د ځوانانو د هوساینې دفتر (Jugendamt) ته تسلیم کړل شي. د غرمې د ډوډۍ لپاره د والدینو سهمیه همدلته مستثنی کېږي. که د ورځنۍ پاملرنې په سفرونو کې پر تاسو باندې لګښت راځي، تاسو کولی شئ داسې ثبوت د خپلو مرستو دفتر ته وړاندې کړئ چې د ماشوم ساتونکي په وسیله تایید شوی وي او وروسته به تاسو همغه پیسې بېرته ترلاسه کړئ.
- مهرباني وکړئ مطمین اوسئ چې berlinpass-BuT مو، مخکې له دې چې وخت یې تېر شي، تسلیم کړئ!
- سربېره پر هغو مرستو باندې چې د زده کړې په بسته کې رانغاړل شوي، berlinpass-BuT په فرهنګي بنسټونو، سپورټي او تفریحي فعالیتونو کې د شاملېدو لپاره، ، تخفیفونه وړاندې کوي، لکه د شرایطو برابرۍ تصدیق په څیر (Berechtigungsnachweis). که تاسو غواړئ د دې موخو لپاره berlinpass-BuT وکاروئ ، نو ستاسو باید د ماشوم د پاسپورت اندازه (د 3.5 سانتي متره x 4.5 سانتي) عکس ستاسو د مرستو دفتر ته وسپارئ. مالومات، وړاندیزونه او تخفیفونه په لاندې پاڼه کې موندلی شئ:

  → www.berlin.de/sen/soziales/soziale-sicherung/bn-berlin-ticket-s

## زما ماشوم څه ډول کولی شي د ورځنۍ پاملرنې یا ماشوم ساتونکو په څو ورځنیو سفرونو کې په وړیا توګه ګډون وکړي؟

- د ورځنۍ پاملرنې یا ماشوم ساتونکو له لوري د څو ورځنیو سفرونو لګښتونه د مرستو د مرکز له لوري، چې تاسو د خپلو مرستو لپاره ورته غوښتنلیک ورکړی وو، ورکول کېږي. د دې لپاره یوه جلا فورمه موجوده ده چې پکې، د نرسرۍ/ماشوم د پاملرنې اړوند شخص هم د اړتیا وړ مالومات لیکي.

## که زما ماشوم وغواړي چې په بېکاره وخت کې د ټولنې په فعالیتونو کې ګډون وکړي، زه څه ډول مرستې ورته غوښتلی شم؟

- ماشومان او ځوان اشخاص (له 18 کلونو څخه ښکته عمر لرونکي) کولی شي همداراز د ټولنیز ژوند په ټولنیزو او فرهنګي فعالیتونو (لکه سپورټ، لوبې، فرهنګي مناسبتونه، په جوړو شوو تفریحي فعالیتونو کې ګډون) کې د ګډون په موخه مرستې ترلاسه کړي.. دا په سپورټي کلبونو کې روزنه، د موسیقۍ د الاتو د غږولو زده کول، د ابتدایي موسیقۍ زده کړه یا د تفریحي ودانیو او ځوانانو د ټولنو په تفریحي فعالیتونو کې ګډون کول کېدی شي. د لامبو کورسونه او په موزیمونو کې فعالیتونه هم امکان لري. په انفرادي قضیو کې به ورکتون هم کورسونه په وړیا توګه جوړ کړي.

د بېلګې په توګه، د کلب د غړیتوب فیس او د کورس د فیس لګښت کېدای شي حساب شي. د مرستو کچه په میاشت کې 15 یورو ده، پرته له دې چې اصلي لګښتونه په پام کې ونیول شي. تاسو یواځې باید د وړاندیز یو ثبوت (لکه له سپورټي کلب سره د غړیتوب تړون، د کورس د فیس لپاره رسید) د مرستو دفتر ته وړاندې کړئ. پیسې به وروسته ستاسو بانکي حساب ته په مستقیمه توګه ولېږدول شي.

- د اړینو وسایلو د اخیستلو او یا د کرایې د فیس د تادیې او د سفر د لګښتونو په برخه کې هم نقدي مرستې موجودې دي.

## معلومات او مشوره

**تعلیمي کڅوره:**
→ www.berlin.de/sen/bjf/hilfe-und-unterstuetzung/bildungspaket

**فورمي:**
→ www.berlin.de/sen/bjf/hilfe-und-unterstuetzung/bildungspaket/formulare-eltern/

**BuT-Beratung (مشوره):**
تلیفون: 0-57713004 30 49+
بریښنالیک: info@but-beratung.de
→ www.but-beratung.de

- د تعلیم او ګډون کڅوړې څخه د مالي مرستې په اړه د پوښتنو لپاره
- مشوره او معلومات په آلماني، عربي، انګلسي، روسي او ترکي ژبو کې موجود دي